مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۵مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۵مه | ۶۹۶یمه گڼه

# د سولې پر لور گامونه؛

## ملي مصالحې عالي شورا د امریکا د سولې پر طرحه او راتلونکو کنفرانسونو بحثونه کړي



۳

### په کابل کې د یوه واحد دریځ اړتیا

۲ مخ

### طالبان پیش از موافقت با آتش‌بس باید برای دوازده پرسش …

۲ مخ

### د ترکیې ناسته؛ د نوي سیاسي فصل لومړنی گام

۳ مخ

## کاروبار

۴ مخ

### علي بابا گروپ

د نړۍ میلیاردر او د ډېرو شرکتونو موسس علي بابا ته د کار په لومړیو کې وویل شول، ونه دې ټیټه ده، کمپیوټر دې هم چنداني نه دی زده، ښایسته هم نه یې، ته له موږ سره کار نه شې کولای.





### خوگیاڼی: په ننگرهار کې له ۱۸۰ فارمونو په کلنۍ ډول ۶۰ټنه د کبانو غوښه ترلاسه کېږي



د ننگرهار سیمه‌ییز مسوولین وایي چې په دغه ولایت کې د کبانو د روزنې له څه باندې ۱۸۰ فارمونو څخه هرکال د کبانو ۶۰ ټنه غوښه بازار ته وړاندې کېږي. د ننگرهار د والي ویاند عطا الله خوگیاڼي په دې اړه ویلي چې دغه فارمونه د ځینو غیر دولتي ادارو په مالي مرسته جوړ شوي دي.

خوگیاڼي زیاته کړې: «د بېلابېلو همکارو موسسو له لوري د ننگرهار په بهسودو، سره رود، کامې، گوشتې، مومندرې، کوز کونړ، لعلپورې او بټي کوټ ولسوالیو کې دغه فارمونه جوړ شوي دي. هڅه کوو پر ځان د بسیاینې لپاره په دې برخه کې نوره پانگونه هم وکړو.»

د ننگرهار د والي ویاند دغه راز ویلي چې په دغو فارمونو کې د کارپ، گراس، سلور، لاهو او موري په نومونو کبان روزل کېږي. هغه زیاته کړې چې د خصوصي سکټور په همکارۍ به دا کچه په راتلونکي کال کې نوره هم لوړه شي.

### د بشري حقونو کمېسیون: ښکېلې خواوې دې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي چې په هېواد کې یوازې په تېره یوه اونۍ کې د جگړو له امله ۱۰۶ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

د یاد کمېسیون په خبره، په تېره یوه اونۍ کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د جگړو له امله ۱۳ ملکي وگړي وژل شوي او ۹۳ نور ټپیان شوي دي. دغه کمېسیون د جگړې له ښکېلو لوریو غوښتنه کړې، چې باید د ملکي وگړو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون دغه راز د بشري حقونو پر نړیوالو بنسټونو غږ کړی دی چې باید د جگړې پر ښکېلو غاړو فشار راوړي، څو په هېواد کې د روانې خونړۍ جگړې د ختمولو لپاره هر څه ژر تلپاتې اوربند ته غاړه کېږدي.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون داسې مهال د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې شمېر خپروي، چې په دې وروستیو کې یوځل بیا د ملکي مرگ ژوبلې کچه په بې ساري ډول لوړه شوې ده. هوایي بمبارۍ، د سړک د غاړې د ماینونو چاودنې، ځانمرگي بریدونه او وسله والې نښتې د ملکي مرگ ژوبلې اصلي عامل بلل کېږي. د ملکي مرگ ژوبله تر ټولو خونړۍ پېښه همدا څو ورځې وړاندې په هرات ښار کې موټر بم برید و چې اته ملکیان پکې ووژل شول او لسگونه نور پکې ټپیان شول.

### د مسکو او ترکیې په ناستو کې د گډون لپاره حکومتي پلاوی لا هم نه دی په ډاگه شوی



۵ مخ

### حکمتیار: ناتو شکست‌اش را در افغانستان پذیرفته‌است و در جستجوی راه بیرون‌شدن از این کشور است



گلبدین حکمتیار، رهبر حزب اسلامی که به پاکستان رفته‌است، می‌گوید که ناتو شکست‌اش را در افغانستان پذیرفته‌است و اکنون در جستجوی راه بیرون‌شدن از این کشور است.


آقای حکمتیار که در نشستی با جماعت علمای پاکستان در لاهور سخنرانی می‌کرد، اما گفت مسؤل وضعیت کنونی در کشور حکومت افغانستان است.

او گفت که امریکا می‌خواهد اکنون هرچه زودتر یک حکومت نو را در افغانستان ایجاد کند: «امریکا عجله دارد که نیروهای باقی‌مانده‌اش را هم از افغانستان خارج کند.»

آقای حکمتیار افزود: «ما از این دو نشست حمایت می‌کنیم و به آن‌ها شرکت می‌کنیم.» در همین حال سراج الحق، رهبر جماعت علمای پاکستان موقف‌های حزب اسلامی و طالبان را دربارهٔ صلح یکی دانست: «جماعت علما این موقف را دارد که برای آرامی در افغانستان امریکا باید از این‌جا برود و افغانان حکومت خودرا بسازند. من می‌گویم که آرامی در افغانستان نیاز دنیا است نیاز چین است، نیاز روسیه و هند و تمامی منطقه است. کسانی استند که ترس دارند که افغانان حکومت خود شان را بسازند که منافع آنان ختم می‌شود. ما برای پیشبرد مذاکرات خوش استیم و طالبان و حزب اسلامی دارای یک موقف استند که در افغانستان آرامی و یک حکومت اسلامی باشد.»

این دومین سفر رهبر حزب اسلامی به پاکستان در چند ماه اخیر است. سفری که با انتقادهایی نیز روبه‌رو شده‌است.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# په کابل کې د یوه واحد دریځ اړتیا

د مصالحې عالي شورا رهبرۍ کمېټې د سولې د انتقالي حکومت د طرحې په اړه خپله لومړنۍ غونډه کړې ده. دوی په دې اړه خپل نظریات شریک کړي دي. دا طرحه د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له ټولو اړخونو سره شریکه کړې ده. طالبانو هم ویلي چې دا طرحه یې تر غور لاندې ده او وروسته به خپل دریځ روښانه کړي. په غونډه کې دا پرېکړه شوې چې د سولې په اړه په روسیه او ترکیه کې په جوړېدونکو غونډو کې ګډون وشي.

که رښتیا هم د مصالحې عالي شورا رهبرۍ کمېټه چې پکې د مهمو سیاسي اړخونو استازي او مشران هم شته، یو واحد دریځ پیدا کړي او ورسره ځینې نور سیاستوال همغږي کړي، نو دوې لویې لاسته راوړنې به ولري:

لومړۍ دا چې د سولې په اړه به د افغانستان د حکومت دریځ د یوه شخص یا یوې کړۍ له انحصاره ووځي او د یوې پراخې ډلې له خوا به تصمیم نیول کېږي چې ډېر اړخونه به پکې خپل ځان ویني. تر اوسه پورې ستونزه دا وه او لا شته چې د سولې په تړاو ټول تصمیمونه د یوه شخص یا یوې کړۍ له خوا نیول کېدل. دوی دا تصمیمونه د افغانستان د ملي ګټو په رڼا کې د سولې لپاره نه نیول، بلکې د خپلو شخصي ګټو او د واک د دوام لپاره یې نیول. آن په واضح ډول درک کېدله چې د دوی پرېکړې او دریځونه د سولې پروسې د تخریب او د جګړې د دوام لپاره دي. له همدې امله نور بڼه ده چې پرېکړې د یوې پراخې سیاسي اجماع له خوا وشي.

دویمه دا چې په دې سره به د افغانستان دریځ پیاوړی، معقول او د افغانستان د ډېرو خلکو د نظریاتو ممثل شي. کله چې پرېکړه په یوه کوچنۍ کړۍ کې کېږي، په طبیعي بڼه کمزورې وي، خو چې کله په پراخه سیاسي کتله کې پرېکړه کېږي، ټول اړخونه به یې ملاتړ کوي او پیاوړې به وي. د دې تر څنګ ټول اړخونه به یې سنجول شوي وي او معقولیت به پکې وي. دا به داسې پرېکړه نه وي چې ولسي او سیاسي ملاتړ ونه لري او له حکومته بهر سیاستوال او ډېر خلک یې مخالف وي.

پر همدې بنسټ د امریکا له خوا د سولې د انتقالي حکومت له خوا جوړه شوې طرحه باید د مصالحې په عالي شورا کې و ارزول شي. مثبت او منفي ټکي یې باید معلوم شي. د دې تر څنګ باید دا په پام کې ونیول شي، چې د سولې لپاره یو چانس شته او د کوچنیو مسایلو په لویولو سره د سولې فرصت باید زیانمن نه شي. د مصالحې عالي شورا له رهبرۍ کمېټې همدا تمه کېږي چې یو معقول، د سولې په ګټه، جامع او سم دریځ خپل کړي او له سولې سره مرسته وکړي. اوس چې دوی په دې اړه غونډه او بحثونه کړي، نو خلک ترې همدا تمه لري چې ټول سولې ته د یوې اړتیا په سترګه وګوري او د خپلو شخصي ګټو لپاره مثبت او منفي دریځونه ونه نیسي، بلکې هر دریځ یې باید د افغانستان د ګټو او د سولې د راوستلو لپاره وي.

# طالبان پیش از موافقت با آتش‌بس باید برای دوازده پرسش اساسی پاسخ پیدا کنند

ملک ستیز؛ پژوهش‌گر امور بین‌الملل

در این مطلب که برای صفحه ناظران فرستاده شده، نویسنده معتقد است که برای این‌که طالبان بتوانند با آتش‌بس توافق کنند، باید برای دوازده پرسش مهم و اساسی خود، پاسخ‌هایی پیدا کنند.

آتش‌بس نشانه‌ای از اراده طرفین درگیر برای رسیدن به هدف مشترک در مذاکرات صلح است. تجارب جهانی نشان داده که آتش‌بس یک تصمیم بسیار دشوار ولی راهگشا در نخستین مراحل صلح پروری است. آتش‌بس می‌تواند توجیه‌پذیری و تفسیرهای گوناگون برای بازیگران جنگ و صلح خلق کند. به گونه نمونه آتش‌بس می‌تواند جنگ شما را بی‌هدف‌تر جلوه دهد، یا می‌تواند اراده شما را به آرمان‌های تان کُندتر به نمایش گذارد و یا می‌تواند اهمیت شما را در تعاملات کلان سیاسی کاهش دهد. از سویی هم اگر شما با جنگ می‌توانید بهتر سخن گویید، آتش‌بس برای شما معنایی ندارد.

برای این‌که طالبان بتوانند به آتش‌بس توافق کنند، باید به دوازده پرسش مهم و اساسی پاسخ دهند:

نخست؛ برای چه جنگیده‌ایم؟ آن‌ها این پرسش را از خود می‌پرسند و سپس به این نتیجه می‌رسند که اگر برای پیروزی جنگیده‌ایم، آیا آتش‌بس برای ما پیروزی می‌آورد؟ آتش‌بس یک معامله است و شاید هم معامله دشوار سیاسی که منجر به شکست ما شود. آتش‌بس نقش ما را در تقسیم قدرت تعیین خواهد کرد و اگر ما از این جنگ پیروز به درنیاییم، جایگاه ما در قدرت نیز محدود خواهد بود. از این‌رو پیروزی جهاد و طالبانیزم را بر آتش‌بس ترجیح می‌دهند که ادامه جنگ معنا می‌دهد.

دوم؛ منابع جنگ چه خواهد شد؟ روشن‌است که جنگ یکی از مروج‌ترین نوع معامله و روش پول‌سازی در جهان است. طالبان نیز منابع معتبری برای جنگ دارند که زیرساختار طالبانیزم را فعال نگه داشته و آن را می‌چرخاند. در این زیرساختار رهبران، فکرسازان و بازیگران معامله‌گر طالبان ذینفع هستند. در پهلوی آن مواد مخدر، اخازی‌ها و مالیات تحت کنترل طالبان و قاچاق مرزها منابع پردرآمدی برای طالبان هستند. آتش‌بس محتوای این زیرساختار و منابع پولی آن‌ها را زیر پرسش جنگندگان طالبان قرار می‌دهد.

سوم؛ آن‌ها با ما چه خواهند کرد؟ طالبان در زیر چطر حمایتی پاکستان و سیاست‌های دیگر هم‌پیمانان خود در حوزه خلیج نقش بازی می‌کنند. طالبان با گذرنامه‌های آنان سفر می‌کنند، حساب بانکی باز می‌کنند، از جغرافیای آنان استفاده می‌کنند، در بیمارستان‌های آنان زخمیان خود را مداوا می‌کنند و از مزایای قدرت آنان در محلاتی که خانواده‌های شان به سر می‌برند، مستفید می‌شوند. مگر می‌شود بدون حمایت آنان دست به تصمیم بزرگی چون آتش‌بس زد؟ این یک عمل‌کرد احمقانه تصور می‌شود.

چهارم؛ به مدرسه‌ها چه بگوییم؟ پاسخ برای این پرسش خیلی دشوار است. اگر ما بگوییم که دیگر جهاد نمی‌کنیم، بنیاد فکری ما واژگون خواهد شد. ایدیالوژی ما پیوسته به نقش کودکانی است که فردا طالبانیزم را ترویج و فریاد خواهند کرد. مدرسه‌ها، سالانه هزاران نوجوان را به سربازی به میدان‌های نبرد و فکر می‌فرستند. چگونه می‌شود این دستاورد بزرگ و تاریخی را قربانی آتش‌بس با دولتی کرد که اصلاً به مدارس ما اهمیتی قایل نیست. رهبران کابل بارها گفته اند که مدارس مذهبی در مرز افغانستان و پاکستان مواد سوخت جنگ را می‌سازند. اگر ما جهاد را از مدرسه‌های خالی کنیم، چیزی که در آن باقی می‌ماند به درد ما نمی‌خورد.

پنجم؛ آیا حاضریم این همه توجه و اهمیت جهانی را از دست دهیم؟ این پرسش بر اعماق افکار طالبانیزم خطور می‌کند. حالا ما یک جنبش مهم در منطقه هستیم. تا دیروز ما را هراس‌افگن می‌پنداشتند. بر سر رهبران ما میلیون‌ها دالر پاداش می‌بستند. سربازان ما را به گوانتانامو می‌بردند. خانه‌های ما را بمباران می‌کردند. اما حتی دونلد ترامپ، رئیس جمهوری پیشین آمریکا با ما نیم‌ساعت جلسه آنلاین برقرار می‌کند. وزرای خارجه دولت‌های مهم جهان با رهبران ما چه که حتی به معاونین آن‌ها ملاقات می‌کنند. مسکو، تهران، تاشکند، عشق‌آباد و اسلام‌آباد به راه ما فرش قرمز هم‌وار می‌کنند. مگر دیوانگی نیست این همه امتیاز را در پای یک آتش‌بس و آن‌هم لرزنده و شکننده با دولت کابل که مشروعیت مارا بر نمی‌تابد، بریزیم؟ خوب پاسخ روشن است.

ششم؛ استخبارات را چه پاسخ گوییم؟ پرواضح است که جنگ طالبان با استخبارات منطقه گره خورده است. پژوهش‌های معتبر نشان داده است که استخبارات منطقه نقش محوری برای برنامه‌های استراتیژیک طالبان دارند. در پژوهش‌ها آمده است که استخبارات منطقه چنان بر طالبان حاکم است که مسیر، برنامه‌ها، استراتیژی و تاکتیک‌های آنان را زیر وارسی دارد. طالبان به خوبی می‌دانند که سرکشی از این ید پرقدرت محتوای ایدیالوژی طالبانیزم و قدرت جنگیدن طالبان را نابود خواهد کرد.

هفتم؛ آیا دولت افغانستان اسلامی است؟ این پرسش نیز برای طالبان تعیین کننده است. اگر ما بپذیریم که دولت افغانستان مسلمان است و ما با آن‌ها آتش‌بس کنیم پس مفهوم جوهری ما که امارت اسلامی است، چه می‌شود؟ آیا ما تا به حال جنگی را که راه انداخته ایم بر وفق ارزش‌های دینی و تفسیر ما از آن نبوده است؟ برای جنگندگان خود که به نام جهاد همه زندگی خود را از دست داده‌اند چه بگوییم. آیا ما با آتش‌بس جوهر و مفهوم خود را از دست نخواهیم داد؟ برای این پرسش‌های دشوار طالبان تا هنواز پاسخ‌های روشن بدست نیاورده‌اند.

هشتم؛ با دوستان بین‌المللی خود چه بگوییم؟ واقعیت این‌است که طالبان کمیت قابل توجه از جنگندگان بین‌المللی را در سنگرها و در اطاق‌های سیاسی خود دارند. همکاران بین‌المللی طالبان از القاعده گرفته تا جنبش‌های اسلامی منطقه‌ای بر حضور طالبان به عنوان یک پدیده انکارناپذیر در حیات سیاسی افغانستان اثر مهمی داشته‌اند. اینان بودند که مهم‌ترین و پیچیده‌ترین عملیات‌ها را مانند دو حمله به هوتل انتر کانتیننتال کابل، دو حمله به گرین‌ولیج کمپ خارجیان در شرق کابل، حملات پیچیده به پایگاه آمریکایی‌ها در بگرام، مقر ارتش و پولیس و حملات به هوتل‌ها و دفاتر سازمان‌های جهانی در کابل راه‌اندازی کردند. چگونه می‌شود از این‌ها کنار رفت و به جای آن آتش‌بس با دولت کابل را جاگزین کرد. این تصمیم برای طالبان حیاتی خواهد بود.

نهم؛ هژمونی قومی را چگونه مدیریت خواهیم کرد؟ تایید آتش‌بس به معنای هم‌دیگرپذیری است. افغانستان را باید به عنوان یک سیستم واحد به رسمیت شناخت. به مردمان آن باید با دید هم‌سان نگریست و به همه گوش فرا داد. اما این کار هژمونی قومی را که بر طالبان مسلط است و سبب پیوند راهبردی میان ناسیونالیزم و طالبانانیزم شده است صدمه نخواهد زد؟ مسلم است که صدمه می‌زند. پس چگونه می‌توان این صدای «محبوب» و این راهبرد «مفید» را قربانی کثرت‌گرایی اجتماعی کرد. دادن این قربانی بنیاد طالبانیزم را می خشکا ند.

دهم؛ چگونه با خواست زمان هماهنگ شد؟ حالا دوران اینترنت و سرعت اطلاعات است. هیچ نیروی جلو پیش‌رفت آن‌را گرفته نمی‌تواند. رسانه‌های اجتماعی بنیاد خاورمیانه را دگرگون کرد. رسانه‌ها زبان آزادی شهروند، حقوق بشر به ویژه حقوق زنان و کودکان هستند. امروز بیست درصد جمعیت افغانستان در بیرون از کشور به سر می‌برند. گروهی بزرگ از افغان‌ها در کشورهای دیموکراتیک به سر می‌برند و روزانه هزاران خبر تازه به مردم افغانستان از طریق رسانه‌های اجتماعی مخابره می‌کنند. جوانان امروز، جوانان دیروز نیستند. یک تلیفون همراه یک شهروند را به یک رسانه تبدیل کرده است. رفتن به آتش‌بس و هم‌گرایی با این روش پویای اطلاعاتی راه ما را برای شعارهای کهنه و دیروزی بسته است. ما یا باید شعار و سیاست ما را امروزی سازیم یا اینکه با این آتش‌بس همراه نشویم. برای تغییر شعار و سیاست ما نیاز به زمان داریم. نه جنگندگان ما حاضر به این تغییر هستند و نه رهبران ما به این دگرگونی شگرف موافق هستند. پس صبر کنیم. این به نفع ماست.

یازدهم؛ سلطه مذهبی ما باقی خواهد ماند؟ یکی از عواملی که مذاکرات دوحه به بن‌بست رفت تاکید طالبان بر حاکمیت مذهبی آن‌ها نسبت به سایر مذاهب در کشور بود. این سلطه‌ی مذهبی که بر مکتب حنفی استوار است پشتوانه کلان فکری دارد و به دهلیز اقتصادی و مافیایی سایر کشورهای هم‌کیش طالبان راه دارد. در داخل افغانستان نیز این دهلیز افراطیت راهروان فراوانی دارد. طالبان این تازیانه فکری-مذهبی را در دست دارند و نمی‌خواهند و می‌شود گفت نمی‌توانند از دست دهند. آن‌ها به این باور هستند که آتش‌بس بدون قبول این فرمانروایی مذهبی معنایی ندارد چون به جوهر و فلسفه‌ی طالبانیزم آسیب جبران‌ناپذیری وارد خواهد آورد.

دوازدهم؛ با فرهنگ جنگ‌سالاری چه باید کرد؟ وقتی شما برای سی سال تمام، با جنگ زیسته‌اید، از منابع آن استفاده برده‌اید، از فکر آن آراسته شده اید، از جغرافیای آن سود جسته‌اید، از امتیازات منطقه‌ای و جهانی آن لذت برده اید، از سربازان آن بهره برده اید چگونه یک‌باره به انسان معمولی برگشت می‌زنید؟ تلخ‌تر از این‌که در این مدت با کشتن، کشته‌شدن، ویران کردن و ویران شدن، آتش‌زدن و سوختن زندگی کرده اید، چگونه به روال عادی انسان ارزشمند در می‌آیید؟ آیا برای شما و هزاران جنگ‌جوی دیگر که زشت‌ترین حوادث چهل سال اخیر را تجربه کرده‌اید راه برگشت به زندگی عادی مهیا است؟ آیا برای روان‌درمانی شما چاره‌ای است؟ آیا برای برگشت به زندگی، کار و اشتغال مهیا است؟ پاسخ ها روشن هستند و آن «نه» است.

این دوازده پرسش پاسخ‌های عمیق می‌طلبند که تا هنوز برای طالبان حل‌ناشده هستند. این پرسش‌ها دورنمای طالبانیزم را هدف گرفته اند. اگر طالبان برای این پرسش‌ها پاسخ می‌داشتند، شاید راه را برای مسامحه و مصالحه باز می‌کردند.

واقعیت تلخ این‌است که روند صلح‌سازی در افغانستان بازیگران و نیروی متخصص و میانجی‌گرهای حرفه‌ای را با خود ندارد. شوربختانه ما در جامعه جهانی که همیشه برای صلح در افغانستان و منطقه تاکید دارند، نهادی را نمی‌شناسیم که بتواند به این پرسش‌های مهم پرداخته باشد. دولت افغانستان که در این دوازده پرسش نقش‌های گوناگونی دارد همیشه قانون اساسی را به عنوان پیش‌شرط با طالبان پیش‌کش کرده است. این در حالی‌است که دولت، خود مسبب تخطی‌های گسترده قانون اساسی بوده است. حالا وقتی از نشست‌های جهانی در مسکو، استانبول و شاید هم جاهای دیگر نام برده می‌شود، این دوازده پرسش اهمیت بیش‌تر پیدا می‌کنند. حقیقت این‌است که به این پرسش‌های دشوار در روند صلح‌پروری افغانستان اهمیت زیادی دارند. استراتیژیست‌ها همیشه می‌گویند برای اینکه راهکار خوبی را مطرح و مساعد گردانید، باید از خود پرسش‌های دشوار بپرسید. اما ما وقتی پرسش‌های دشوار را مطرح می‌کنیم، دولت می‌گوید که شما مخالف صلح هستید. وقتی این پرسش‌های دشوار را از طالبان مطرح می‌کنید آن‌ها می‌گویند شما مزدور غرب هستید. وقتی این پرسش‌های دشوار را از خارجی‌ها می‌پرسید آن‌ها می‌گویند که شما مخالف غرب هستید.

# د ترکیې ناسته؛ د نوي سیاسي فصل لومړنی گام

ذاکر جلالي

د دوحې موافقتنامه پر څلورو ټکو راڅرخي: د بهرنیو ځواکونو وتل، د طالبانو لخوا تضمین چې افغان خاوره به د چا پر خلاف نه کارېږي او دوه نور بین‌الافغاني خبرې او هراړخیز اوربند. پر دوو لومړنیو د دوحې موافقتنامه کې هوکړه وشوه او دوه وروستي افغانانو ته پرېښودل شول.

د بین‌الافغاني خبرو محوري بحث د افغانستان د راتلونکي نظام بڼه او د ښکېلو لوریو تر منځ یو ډول واک وېش دی. پر دې جمعي هوکړه شته چې د نظام بڼه به «اسلامي» وي، یانې اسلامي شریعت به پکې مرکزي او وروستۍ خبره کوي؛ خو په ورته وخت کې یو ډول واک وېش هم د بحث وړ دی چې که ونه شي، د سولې د ماتېدو یا د جگړې د دوام وېره له ځان سره لري. کله چې د نوي نظام بحث مطرح کېږي، په طبیعي ډول د ډاکتر اشرف غني په مشرۍ اوسنی حکومت نفې او د بدیل جوړښت بحث راپورته کېږي. د سولې د بحث دغه ټکی اشرف غني ته هغه خپسه ده، چې خوب یې تروړي. تر دې دمه «د بلینکین تر لیک» اشرف غني تیاری نه دی ښودلی چې واک به یوې نوې اداري ته سپاري.

یوازینی هغه جهت چې کولای شي اشرف غني دغه وړ یوې پرېکړې ته اړباسي، د امریکا متحده ایالتونه دي. د ټرمپ له وخته، د امریکا حکومت په تدریجي ډول پر غني فشارونه راوړل چې نوو واقعیتونو ته غاړه کېږدي. له همدې امله د غني او خلیلزاد اړیکې هم ترینگلې شوې. غني او ټیم یې داسې ښودله چې گواکې دا د خلیلزاد شخصي پروژه ده. د وخت په تېرېدو سره لا ښکاره شوه چې افغانستان کې سیاسي جوړجاړی او د مسئلې مذاکراتي اواری د امریکا رسمي سیاست دی.

**د بایډن تگلاره**

واک ته له رسېدو سره سم، د افغانستان مسئله د جو بایډن اداري ته د بهرني سیاست یو له سرخوړیو گڼل کېږي. بایډن د روان کال جنوري میاشت کې کار پیل کړ. په داسې حال کې چې د طالبانو او امریکا تر منځ د دوحې د موافقتنامې له مخې پکار ده ټول بهرني ځواکونه د ۲۰۲۱ کال تر مې میاشتې له افغانستانه ووځي. په دې حساب، د بایډن اداري تر څلورو میاشتو لږ وخت درلود چې د افغانستان د مسئلې په باب وروستۍ خبره وکړي.

په دې اساس د بایډن اداره اړ ده، چې په دوحه کې سوکه خبرو ته نه یوازې سرعت وروبښي، بلکې په ورته وخت کې د خبرو میکانېزم کې بدلون راولي. تېره اونۍ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، انتوني بلینکین لیک رسنیو ته راووت چې پکې په بشپړ وضاحت او صراحت له اشرف غني څخه غوښتل شوي په «راتلونکو اونیو کې عاجله رهبري» وښیي. د بلینکین په لیک کې د نوي میکانېزم په باب اشرف غني ته خبر ورکړل شوی، چې ترکیه به د داسې ناستې کوربه وي چې د امریکا، روسیې، چین، ایران، هند او پاکستان د استازو په گډون به د طالبانو او اسلامي جمهوریت «صلاحیت لرونکي» استازي هم پکې گډون کوي.

د بایډن اداري د استانبول د کانفرانس لپاره چې تمه ده په اپریل کې تر سره شي، واردمخه کورنۍ دنده هم تر سره کړې. د انتقالي اداري په خاکه کې یې ډېر داسې موارد ځای کړي چې د سولې خبرو له چټکتیا او نتیجه ورکولو سره مرسته کوي. د بایډن حکومت بیړه لري او په دې برخه کې یې ډېرې چټکې او پراخې هڅې پیل کړې دي.

**د اشرف غني مخالفت به ځای ونیسي؟**

اشرف غني په غیر مستقیم او لومړي مرستیال یې، امرالله صالح په مستقیم ډول له نوې طرحې سره مخالفت کړی. پوښتنه دا ده چې ایا د غني مخالفت به ځای ونیسي؟ د ۲۰۱۴ کال په سپټمبر کې چې اشرف غني له ډاکټر عبدالله سره سیاسي موافقه وکړه او ولسمشر شو، لومړنی اقدام یې امریکا او ناټو سره د لانجمنو موافقتنامو لاسلیک و. غني د دغو لانجمنو سندونو تر لاسلیک وړاندې د یوې بیا کتنې اړتیا هم احساس نه کړه. له هغې راهیسې چې اشرف غني د افغانستان د واک پر گدۍ ناست دی، تر دې دمه هېڅکله داسې نه دي شوي چې د افغانستان د ملي گټو له ستیج څخه د امریکا یا بل قدرتمند دولت پر وړاندې دریځ ونیسي. حتی په څلونو د بهرنیو ځواکونو د هوایي بریدونو او بمباردونو په نتیجه کې ډېرو افغان ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې، خو له ارگ څخه لږ تر لږه د غندنې اعلامیه هم نه ده خپره شوې.

تېر ته په کتو، محال برېښي چې اشرف غني دې وتوانېږي چې د امریکا د نوې طرحې مخالفت دې وکړي. که د بایډن د ادارې جدیت په پام کې ونیسو او همدا راز د غني پر حکومت یې اغېز او رول ته وگورو، ډېره لرې برېښي چې اشرف غني دې د راتلونکو پرمختگونو مخه ډب کړي. په حقیقت کې د امریکا د نوې ادارې اصلي هڅه هم همدا ده چې افغان سوله د تخریبکارو کړیو له منگلو وژغوري. د بلینکین په لیک کې کافي وضاحت شته چې د امریکا له نظره کوم لوری د سولې له روان بهیر سره مخالفت لري.

**طالبان او نوی فرصت**

د بهرنیو ځواکونو پر خلاف له مقاومت وروسته طالبانو تل د نوي اسلامي نظام خبره کړې. یو له هغو دلایلو چې طالبان د غني حکومت په رسمیت نه پېژني او چمتو نه شول چې د دې حکومت برخه شي، دا و چې حکومت یې د اشغال زېږنده باله. اوس چې د امریکا لخوا نوې طرحه وړاندې شوې، دا ټکی هم پکې دی. مانا دا چې واک د یوې مشخصې مودې لپاره داسې اداري ته انتقال شي چې د لوریو لخوا پرې موافقه وشي او بیا هغې موقتې اداري ته یو لړ کورنۍ دندې په پام کې ونیول شي. دلته به مهم پرمختگ دا وشي چې جگړه به ودرېږي او سیاسي هڅې به سرعت پیدا کړي.

افغان حکومت په مستقیم او نا مستقیم ډول له نوې طرحې سره مخالفت کړی؛ خو طالبانو تر دې دمه چوپتیا غوره کړې ده. داسې برېښي چې طالبان به نوې طرحه ارزوي. په حقیقت کې د امریکا د نوې طرحې له مخې، له کابل حکومت څخه واک اخیستل کېږي او داسې نوي جوړښت ته سپارل کېږي چې طالبان به یې ټاکنه کې رول ولري. پر دې اساس، فکر نه کېږي چې طالبان دې په بشپړ ډول نوې طرحه رد کړي.

دا هم د یادولو ده، چې نوې طرحه وروستۍ نه ده. طالبان هم کولای شي په راتلونکې ناسته کې خپلې ملاحظې او وړاندیزونه په کې ځای کړي. په نوې طرحه کې دا ظرفیت شته چې د طالبانو عمده غوښتنه په کې ځای پر ځای شي.

**پای**

نوې طرحه د تلپاتې افغان سولې لپاره یو بل فرصت د افغانانو په مخ پرانیزي. په دې میکانېزم کې هم د سیمې هېوادونو ملاتړ راخپلېږي او هم مقتدر افغان لوري جرگه کېږي چې خبرې ژر پایلې ته ورسېږي.

د بایډن حکومت بیړه لري او هڅه کوي چې د دوحې موافقتنامه وژغوري. افغان لوریو ته هم پکار ده چې په دې اړه جدي فکر وکړي چې څنگه دا فرصت د افغانستان سولې او ثبات لپاره وژغوري.

یو مهم ټکی له سولې وروسته د افغانستان او نړۍ تعامل دی. دا هغه څه دي چې اوسنی فرصت یې له ځان سره لري. که یوه افغان لوري سره ټول واک هم موجود وي؛ خو یو منزوي او گوښی افغانستان ورته رسېږي، دا د واکمن لوري په گډون د هېچا په گټه نه دی.

# د سولې پر لور گامونه؛

## ملي مصالحې عالي شورا د امریکا د سولې پر طرحه او راتلونکو کنفرانسونو بحثونه کړي



د افغان سولې لپاره د هڅو د چټکتیا په دوام، تازه د ملي مصالحې عالي شورا هم په همدې تړاو خپله پنځمه ناسته جوړه کړې وه. د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ غړو په دې ناسته کې د سولې پر روان بهیر او د امریکا د سولې پر طرحې او تگلارې خبرې کړې دي. تر څنگ یې ټینگار شوی چې دغه ډول غونډې به دوام کوي او د افغان سولې په تړاو په راتلونکو نړیوالو غونډو کې باید د حکومت دریځ واضح وي. بلخوا امریکا له افغان چارواکو سره په لیدنه کې اوسنی تاوتریخوالی د اندېښنې وړ بللی او د درېدو غوښتنه یې کړې ده.

وروسته له هغې چې امریکا په استانبول کې د افغان سولې په تړاو او روسیې هم په مسکو کې د سولې کنفرانس د جوړولو خبره وکړه، افغان چارواکو هم په دغو کنفرانسونو کې د گډون لپاره تیاري او سلا مشورې پیل کړې دي. د ملي مصالحې عالي شورا غړو پرون پر همدې مسئله غونډه کړې وه. د ملي مصالحې عالي شورا له مطبوعاتي دفتره په خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې په دې ناسته کې د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ کمېټې غړو گډون کړی و او د سولې پر وروستیو پرمختگونو یې بحث کړی دی.

اعلامیه وایي، چې غونډه د ډاکټر عبدالله عبدالله په خبرو پیل شوه او هغه وویل چې د افغانستان په اړه په نږدې راتلونکي کې نړیوال کنفرانسونه جوړېدونکي دي چې باید افغان حکومت پکې واضح دریځ ولري. نوموړي همدا راز ویلي چې افغانستان دمگړۍ په مهمو شرایطو کې دی او رامنځ ته شوي فرصتونه د هېواد لپاره برخلیک ټاکونکي دي، نو له همدې امله بحثونو او د دریځ روښانولو ته اړتیا ده. په اعلامیه کې راځي، چې ډاکټر عبدالله د امریکا د سولې پر طرحې او نورو مسایلو هم د مصالحې عالي شورا له غړو د نظر غوښتنه کړې ده. اعلامیه زیاتوي: «د ملي مصالحې عالي شورا رییس وویل، د نن ورځې ناسته ډېره حیاتي ده، موږ باید د امریکا متحده ایالتونو له خوا د وړاندې شوې طرحې او د افغان سولې په تړاو سیمه‌ییزې او نړیوالې ناستې چې په نږدې راتلونکي کې به پیل شي، باید روښانه او واضح دریځ ولرو».

ډاکټر عبدالله عبدالله په خپلو خبرو کې د امریکا طرحې ته په اشارې ویلي، چې افغان چارواکي له بحثونو وېره نه لري او په خبره یې، پر هره هغه لاره او انتخاب به بحثونه کوي، چې افغانان یو گام سولې ته نږدې کولی شي. هغه ټینگار کړی چې په راتلونکو نړیوالو بحثونو کې د افغان حکومت دریځ باید روښانه وي او دا پرېکړه د ملي مصالحې عالي شورا غړي باید وکړي. د دغې شورا د رهبرۍ کمېټې غړو هم وویل چې دوی د سولې ملاتړي دي او په خبره یې، د افغان حکومت داعیه برحقه ده او په دې تړاو د خپل دریځ دفاع ته تیار دي.

د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ کمېټې غړو د امریکا د سولې پر طرحه، راتلونکو اقداماتو او جوړېدونکو کنفرانسونو هم خبرې او بحثونه کړي دي. دوی ویلي، افغان حکومت د سولې ملاتړی دی، په همدې هدف یې پلاوی په دوحه کې دی چې له بشپړ او هر اړخیز ملاتړ او صلاحیت برخمن دی. دوی وویل چې افغان سوله سیمه‌ییزه او نړیواله جنبه لري، نو له همدې امله د سیمې هېوادونو او نړیوالو ته په کار ده چې په دې برخه کې خپلې مرستې او همکارۍ ډېرې کړي. دوی ټینگار کړی، چې د دغه بهیر بریا د نړیوالو په صداقت پورې تړلې او که دوی له افغان سولې سره صادقانه همکاري وکړي، دلته به روانه جگړه ډېره ژر ختمه کړل شي. د ملي مصالحې عالي شورا غړو دغه راز د سولې بهیر د چټکتیا، اوربند، جگړې د کمېدو او تلپاتې سولې او ثبات د راتگ غوښتنه کړې ده.

بلخوا د سولې په دې هلو ځلو کې د امریکایي پوځ د مرکزي قوماندانۍ قومندان جنرال کېنټ مکینزي افغانستان ته راغلی و او له ولسمشر غني سره یې په لیدنه کې له افغان ځواکونو د ملاتړ ډاډ ورکړی دی. تر څنگ یې دا هم ویلي وو چې اوسنی تاوتریخوالی د منلو نه دی او طالبان باید د سولې هوکړې ته خپله ژمنتیا وښیي.

# د بشري حقونو د څار ډله: د سوریې په لس کلنې جگړې کې نږدې څلور سوه زره کسان وژل شوي


د بشري حقونو د څار یوه اداره وایي، چې د سوریې په لس کلنۍ جگړې کې درې لکه او ۸۸۶ زره او ۵۲ کسان وژل شوي چې له دې ډلې ۲۲ زره یې ماشومان دي. دا په داسې حال کې ده چې په سوریه کې د ۲۰۱۱ز کال د مارچ د میاشتې په ۱۵ مه د عربو د پاڅون په لړ کې ولسي لاریونونه پیل شول او د جمهور رییس بشارالاسد د لېرې کېدو غوښتنه یې کوله. دغه لاریونونه وروسته په جگړو او خونړیو تاوتریخوالو بدل شول. د سوریې د بشري حقونو د څار اداره چې مرکز یې په لندن کې دی او په سوریه کې د جگړې په هکله معلومات راټولوي، ویلي چې په جگړې کې ۱۱۷۳۸۸ عام خلک وژل شوي، چې ۲۲ زره یې ماشومان وو. په دغه راپور کې ویل شوي چې اکثریت عام خلک د سوریې د رژیم او د رژیم د طرفدارو ملېشو په بریدونو کې وژل شوي. د یادونې ده چې په دې تېرو لسو کلونو کې یوازې په روان میلادي کال کې په سوریه کې جگړه کمه شوې؛ ځکه چې د یاغیانو او حکومتي ځواکونو تر منځ اوربند شوی او ډېر تمرکز د کرونا ویروس د خپرېدو په مخنیوي شوی دی. د بشري حقونو د ادارې په راپور کې همدارنگه ویل شوي، چې د جگړې له پیل راهیسې، شاوخوا ۱۶ زره کسان د حکومت په زندانونو کې وژل شوي دي. دې ادارې ویلي، چې ښایي د دغو کسانو شمېر تر دې هم لوړ وي؛ ځکه چې په دې کې هغه ۸۸ زره کسان نه دي شامل، چې ممکن د رژیم په زندانونو کې د شکنجې له کبله مړه شوي وو. د جگړې له کبله همدارنگه د سوریې له نیمایي زیات اوسېدونکي بې کوره شوي او د بشري حقونو د څار اداره وایي، چې شاوخوا ۲۰۰ زره کسان تري تم دي. د جگړې په پیل کې یاغیانو د سوریې ډېرې سیمې د رژیم له ځواکونو څخه ونیولې، خو رژیم د یاغیانو په مقابل کې وروسته تر هغه برلاسی شو، چې روسیې په ۲۰۱۵ز کال کې نظامي مداخله وکړه او د یاغیانو په مرکزونو یې هوایي بمبارۍ پیل کړې. د سوریې نږدې ۶۰ په سلو کې خاوره اوس د رژیم په لاس کې ده. سوریه اوس په څلورو برخو وېشل شوې ده. په شمال ختیځ کې د ادلیب ولایت د یاغیانو په لاس کې دی. په شمال کې بیا هغه سیمې چې له ترکیې سره پولې ته نږدې دي، د ترکیې په لاس کې دي او شمال ختیځې برخې یې بیا د هغو کردي ملېشو په لاس کې دي، چې امریکا یې ملاتړ کوي.

## د کتــاب خبــري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. ایس دولت، اسددوراني او ادیتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ


### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




دوراني: د متحدو ایالتونو بریالیتوب په دې کې دی، چې د پېښو د کنټرول وړتیا لري. زموږ هېواد تر ټولو ډېر ترهګر تولید کړي دي، ځکه چې موږ ترهګر ورته وایو. د عراق او سورېې دوران اوس ختم دی. کشمیري جنګیالي، تحریک طالبان پاکستان، افغان طالبان، بلوڅ معترضین، فرقه‌یي مخالفین او نور ډېر قومي او سیاسي معترضین دي، چې ټولو ته یوځایي «ترهګر» ویل کېږي.
اوس ترهګر هغه چاته ویل کېږي چې جګړه کوي. اوس تر ټولو بده ترهګري هغه ترهګري ده، چې دولت یې کوي. اوس غیر دولتي لوبغاړي ملکیان دومره له منځه نه وړي لکه دولتونه چې یې وړي. که مې خوښ نه وي د ترهګر نوم دربانديې ږدم او هر څه چې مې زړه وغوښتل درسره یې کوم. دا ټول په دې نوم، چې ته ترهګر یې. لکه څنګه چې د کشمیري جنګیالیو او سیکانو ترمنځ توپیر دی، همداسې موږ ته زموږ په لویدیزه پوله کې هم د ډلو تر منځ توپیر دی. افغان طالبانو موږ ته ویلي دي چې پنجابي طالبان ترې لرې وساتو. پنجابي طالبان نه پوهېږي چې څنګه نامتقارنه جګړه پرمخ بوځي. ددې ډلې جنګیالي سهار وختي راپورته کېږي، لمونځ کوي او بیا له خپلو مشـرانو د خپل راتلونکي هدف په اړه پوښتنه کوي. افغان طالبان ښه جنګیالي دي. دوی ۳۵ کلنه تجربه لري، دوی هره ورځ خلک نه وژني، خو د عملیاتو او تګلارو ډول وخت پر وخت بدلوي.
کشمیریان هم له یو څه شاتګ وروسته بېرته منظم شول. په ځینو ځایونو کې دې نتیجې ته ورسېدل چې جګړه یې په یوازې ځان خپلو موخو ته نشي رسولی. که به له دوی څخه هر څومره ډېر ملاتړ کېده، د دوی اوږدمهاله موخه د ازادۍ ترلاسه کول و.
د سېک جنګیالیو په اړه هندیان د بېنظیر بوټو د لومړني حکومت له مرستو منندوی وو.(دا د حیرانتیا وړ وه، چې هندیانو ډېر ناوخته دا کار وکړ.) خو د کشمیریانو او سېکانو تر منځ اړیکې وې، کشمېریانو به سېکانو ته ویل چې تاسو له هند سره د مرستې په وسیله څومره په بدمرغۍ هغه کشمیریان اغېزمنوئ، چې د خپلې خپلواکۍ او حقونو لپاره جګړه کوي؟
په لوېدیزه پوله کې یوه بله ستونزه دا ده، چې مشـرف د افغان مقاومت او یا د طالبانو پر خلاف له نورو سره مرستې وکړې او سلګونه کسان یې له محکمې پرته ګوانتنامو ته واستول. پر دې کار یې په خپل کتاب کې هم اعتراف کړی دی، چې سلګونه کسان یې امریکایانو ته په لاس ورکړل. وروسته بیا مشـرف قبایلي سیمو ته پوځ واستاوه. پایله یې دا شوه، چې تحریک طالبان پاکستان او ۴۰ نورې مختلفې ډلې راپیدا شي: ځینې له دې کبله چې موږ له متحدو ایالتونو سره د دوی د قومیانو پرخلاف مرسته وکړه او نور یې د نورو دلیلونو له کبله راپورته شول. دا چې پر پاکستان د ترهګرۍ ټاپه لګېږي لاملونه یې د پاکستان خرابې پالیسۍ، له متحدو ایالتونو سره خرابې معاملې او له هند سره یې د اړیکو ډولونه دي.
که غواړې دا درته ثابته کړم، چې له بهر څخه د تحریک طالبان پاکستان ملاتړ کېږي، نو ثبوت یې دا دی چې د دوی دا پرمختللې وسلې، الکترونیکي تجهیزات او د اړیکو نیولو وسایل، خو په بازار کې نه پیدا کېږي، نو دوی له کومه کړل؟ آیا دا د ترهګرۍ بېلګه نشي کېدای؟
الفران ته مې له ډېرو زاویو وکتل خو کوم ځانګړي معلومات مې پیدا نه کړل. ما هېڅکله هم د همدې ډلې په اړه نه وو اورېدلي، دا ډله له یوې بلې خوا را پیدا شوه...
سېنها: حرکت‌المجاهدین.
دوراني: هو، دقیقاً. هېچا الفران نه پېژانده او نه یې چا په اړه خبرې کړې دي. ښایي دا به د هندي استخباراتو مصنوعي عملیات وو.
پایله یې دا وه، چې پاکستان او کشمیریانو ته خلک په غوسه شي. دوی ازادي اخیستونکي جنګیالي نه وو. دوی تروریستان وو، ځکه چې یو امریکایی، یو انګرېز، یو جرمنی او یو ناروېژی یې اختطاف کړي وو.
یو یې موږ د تېښتې په حال کې په داسې سیمه کې پیدا کړ چې ځنګلونو او واورو پوښلې وه. دی مو د چورلکې په مرسته وژغوره. پاتې نور یې هېڅکله د دوی له منګولو راخلاص نه شول. کلونه وروسته په دې اړه یوه خاوند او مېرمنې معلومات ترلاسه کړي وو او کتاب یې پرې لیکلی و. دوی هم هغه څه ویلي وو چې موږ یې فکر کاوه. که څه هم دوی یو څه ترلاسه کړي وو، خو بیا هم کم وو. دا کار یې ددې لامل شو چې کشمیریانو ته د یاغیانو پر ځای ترهګر وویل شي.
دا یوه ستونزه ده، ځکه کله چې ټولو ته د ترهګرو خطاب کېږي، نو ټولو ته به په یوه سترګه کتل کېږي.
**دوام لري...**

# علي بابا ګروپ

حشمت الله نوري




علي بابا ګروپ کمپنۍ د الکترونیکي سوداګرۍ په ډګر کې یو فعال چینایي شرکت دی. دوی د پلور او پېر خدمات د انټرنېټ له لارې خپلو مشتریانو ته وړاندې کوي. دغه کمپنۍ له امازون او ای بي کمپنیو سره په رقابت کې ده. د دوی پلور تر ۱،۱ میلیارد ډالرو اوړي چې په دې توګه نو تر یادو دوو کمپنیو په پلور کې وړاندې هغه ده. دغه کمپنۍ په فعاله توګه د انټرنېټ له لارې سوداګریز خدمات وړاندې کوي. په ۲۰۱۴ کال کې یې ارزښت ۲۳۱ میلیاردو ډالرو ته رسېده. په ۲۰۱۳ کال کې علي بابا ګروپ وروسته له دې امریکایي بازارونو ته ننوت، چې له یوه چینایي شرکت سره د شراکت هوکړې ته ونه رسېد. د علي بابا ګروپ پر وېبپاڼه کولی شی تاسې میلیونونه ډوله وسایل او توکي واخلی. همدارنګه د علي بابا وېبپاڼه د نړۍ په ۲۰ غوره وېبپاڼو کې شمېرل شوې ده. د دغه کمپنۍ ٦۰ سلنه خدمات چینایانو ته وړاندې کېږي.
د علي بابا کمپنۍ کارونه یې د اوسني مالک جک ما په کور کې پیل شوي دي. د دغه شرکت بنسټ همدلته په ۱۹۹۹ کال کې اېښودل شوی دی. نوموړي دغه کار په پکن کې پیل کړی دی، دی وایي، ما له ځان سره فکر وکړ چې علي بابا مې شرکت ته ښه نوم دی؛ ځکه اسانه تلفظ کېږي.
جک ما د علي بابا کمپنۍ عامل مدیر دی، هغه د ۲۰،۸۸ میلیاردو ډالرو په لرلو د نړۍ په میلیاردرانو کې ۳٦م ځای لري. یو وخت کې په کار پسې ګرځېده، کیسه یې په زړه پورې ده، پوهېږی جک ما یو وخت غوښتل چې د کې اېف سي په یوه هوټل کې کار پیل کړي، خو ده ته یې وویل، وروره ته کوچنی یې، اندام دې وړ دی، ونه دې ټیټه پاتې ده، سره له دې ښکلی هم نه یې. خو پوهېږی؛ همدغه جک ما اوس میلیاردر دی.
جک ما په حقیقت کې د علي بابا د شرکت هر څه دی. هغه که نه وی، نو دا شرکت به نه و، ده له همدې ځایه پیل کړه، هغه د الکترونیک په نړۍ کې علي بابا له سترو بدلونونو سره مخ کړ. کله چې ده د علي بابا شرکت کارونه پیل کړل، نو هغه وخت د انګلیسي یو عادي ښوونکی و، ان خلک دا هم وایي چې د سواد کچه یې د کمپیوټر د یوه عادي ښوونکي په کچه هم نه وه. هغه تر ۱۹۹۵ کال پورې انټرنېټ هم نه کاراوه. مخکې مو هم وویل چې که کې اېف سي هغه ته کار نه وی ورکړی، ځینې خو لا دا هم وایي چې آن ۲۴ ځله یې د کار غوښتنه ترې وکړه؛ خو بیا هم دی بریالی نه شو چې په دغو رستورانتونو کې ځان ته کار پیدا کړي. هغه سره له دې چې په ونه ټیټ و، خو د اقتصاد او پانګې په برخه کې یې قوي مغز درلود، یوازې په څو کلونو کې یې خپل شرکت هغه ځای ته ورساوه چې د لسیزو کمپنۍ یې شا ته پرېښودې. هغه په ۲۰۰۰ کال کې د هغه وخت تر ټولو ستره سیاله کمپنۍ اې بي په چین کې ماته کړه او له دې رقیبې کمپنۍ یې علي بابا مخکې کړ.
جک ما وایي، د شرکت له جوړولو یې موخه دا وه، چې د سوداګرۍ نړۍ اسانه کړي. یا د راکړې ورکړې پېچلې او سترې پروسه تر هغه اسانه کړي چې وس یې رسېږي. ده همداسې وکړل، پلور او پېر یې له زماني او مکاني قید یا محدودیې را وایستل. دغه شرکت لومړی د ۱۸ ملګرو په مرسته کار پیل کړ. پانګه یې کمه وه، ورو ورو یې هڅه وکړه چې د نړۍ په کچه خپل کاروبار وغځوي. دغه کمپنۍ همدا اوس ۲۵ زره کارکوونکي لري. مشتریان یې د شمېرو له مخې تر ۳ سوو میلیونو اوړي. جک ما به ویل چې له انټرنېټ سره باید خلک په دې بریالي شي چې خپل کارونه په پوره باور او ارامۍ سره تر سره کړي. ده به ویل، ښایي ډېری کسان له سایټونو استفاده ونه شي کړی، نو د همدې لپاره یې سایټ دومره ساده او عام فهمه ډیزاین کړ چې نن هم د نړۍ په ښکلو سایټونو کې شمېرل کېږي. چین مخکې هم د سوداګرۍ او صنعت یو مشهور هېواد و، خو علي بابا بیا د انټرنېټ په نړۍ کې د ورېښمو لار جوړ کړ، خلکو ته یې سوداګري اسانه کړه او له همدې لارې یې میلیاردونه ډالر وګټل.
علي بابا د خپل کار لپاره یو منظم پلان درلود، دوی غوښتل د راکړې ورکړې داسې یو سیستم جوړ کړي، چې پلورونکي له خپلو مشتریانو سره د نړۍ په ګوټ ګوټ کې په اړیکه کې وي. د علي بابا سایټ د خلکو لپاره سلګونه کارونه پیدا کړل. په دې توګه تولید کوونکې کمپنۍ پیاوړې شوې او په دې بریالۍ شوې چې خپلو محصولاتو ته بازارموندنه وکړي او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د یوه مشهور سایټ له لارې خلک د دوی له محصولاتو سره اشنا شي.
ویل کېږي کله چې علي بابا شرکت د لومړي ځل لپاره جوړ شو، نو هېچا دې ته زړه نه ښه کاوه چې په هغه کې پانګونه وکړي. خو اوس داسې کم څوک پیدا کېږي چې د دغه شرکت د سهامو مینه‌وال نه وي. یاهو کمپنۍ هم د علي بابا کمپنۍ محصولات په واک کې لري، له پنځو یوه حصه یې له یاهو کمپنۍ سره ده. دوی هم له دې لارې میلیونونه ډالر ګټه کوي. څومره چې علي بابا وده کوي، د یاهو ګټه هم ډېرېږي. همدارنګه جاپانی سافت بانک هم د علي بابا کمپنۍ سهم لرونکی دی. هغه د علي بابا کمپنۍ ټیم دی او د جک په مشرۍ مخ ته ځي. دغه شرکت مدیره هیئت هم لري، خو ټول غړي یې د علي بابا پارټنرشیپ ټیم انتخابوي. دغه ډلې د بهرنیو سهم لرونکو له مداخلې پرته خپلې چارې سمبال او اداره کوي. کله چې د علي بابا کمپنۍ وده کوله، نو هڅه یې وکړه چې ورو ورو نور شرکتونه هم تر خپل چتر لاندې راولي. په همدې توګه یې څو نور شرکتونه جوړ کړل او څو نور یې تر خپل مدیریت لاندې راوستل. په حقیقت کې علي بابا ورو ورو د شرکتونو په یوه ګروپ بدلېده. اوس د دغه شرکت تر مدیریت لاندې څو نور شرکتونه هم دي چې د پلور او پېر په برخه کې فعالیت کوي. علي بابا کمپنۍ د انټرنېټ په نړۍ کې ورځ تر بلې وده کوي، په ۲۰۰۰ کال کې چې کله د انټرنېټ یوې چینایي کمپنۍ د علي بابا کمپنۍ له مشرانو سره وکتل، نو پوښتنه یې وکړه، نه پوهېږو چې انټرنېټي نړۍ به څنګه وي؟ علي بابا کمپنۍ ورته وویل، نه پوهېږو خو موږ هڅه کوو چې په انټرنېټي نړۍ کې یو ایډیال ژوند او کاروبار رامنځ ته کړو.
په ۲۰۰۵ کال کې علي بابا کمپنۍ، د چین یاهو کمپنۍ واخیسته، په دې برخه کې یې یو میلیارد ډالر پانګونه وکړه. دا نو په هغه وخت کې په چین کې د ملکیت تر ټولو ستره سودا وه. د چین په تاریخ کې چا په دومره ډېرو پیسو ملکیت نه و اخیستی. دوی میلیاردونه ډالر پانګونه جذب کړه. په ۲۰۰٦ کال کې یې د انټرنېټي فعالیتونو د اسانه کولو په موخه له آی سي بي سي کمپنۍ سره هوکړه لاسلیک کړه. دوی په دې برخه کې څو اړخیزې همکارۍ درلودې او په دې توګه یې له یو بل سره خپلې تجربې شریکې کړې.
په ۲۰۰۸ کال کې په چین کې یوه ستره زلزله وشوه، د چین ټول شرکتونه سره یو ځای شول او مرستې یې وکړې. علي بابا هم په دې منځ کې ۴ میلیونه ډالره مرسته وکړه او همدا راز یې له خپلو کارکوونکو او مشتریانو ۷،۵ میلیونه ډالر مرسته راټوله کړه، څو وراني شوې سیمې له سره ورباندې ورغول شي او له ځپل شوو خلکو سره مرسته وکړي. په ۲۰۱۲ کال کې یې د تاوباوو نوم ټې مال ته واړاوه.
په ۲۰۱۳ کال کې کله چې د تاوباوو لسمه کلیزه وه، نو جاناتان لو د جک ځای ناستی د عامل مدیر په توګه وګومارل شو. علي بابا کمپنۍ هغه خلک دي چې له انټرنېټ یې ډېره ګټه پورته کړه او په ډېر عادي کار یې د میلیاردونو ډالرو کاروبار ځان ته برابر کړ.
جک ما د علي بابا چینایي کمپنۍ لوی اجرایي مدیر دی. هغه په ۱۹۹۹ کال کې علي بابا کمپنۍ جوړه کړه. جک ما همدا اوس د نړۍ په ۱۸ شتمنو کسانو کې ولاړ سړی دی. البته د فوربس مجلې د ارزونې له مخې هغه په اتلسم ځای کې دی. جک ما د چین هوګژاوو په ژجیانګ کلي کې زیږېدلی دی. جک د ځوانۍ په کلونو کې هڅه وکړه چې انګلیسي ژبه زده کړي. هغه خپل کور ته نېږدې یوه مرکز ته تلو او هلته یې انګلیسي ژبه زده کوله. پوهېږی هغه ۹ کاله همدا راز سیلانیان له ځان سره ګرځول، څو له یوې خوا انګلیسي زده کړي او له بلې خوا یو څه لګښت ځان ته برابر کړي. هغه له یوه بهرني سره دایمي ملګری شو، هغه به جک ما ته د جک په لنډ نامه غږ کاوه. ځکه چې د جک ما تلفظ کول په خپله په چیني ژبه کې ورته سخت وو.
وروسته جک ما درې ځله د کانکور په ازموینه کې ناکام شو. وروسته د ښوونکو په یوه موسسه کې داخل شو، اوس دغه مرکز هم ستر پوهنتون دی، د هانګزو په نامه یې یادوي، خو هغه وخت یوازې د ښوونکو د روزنې یو مرکز و. په ۱۹۸۸ کال کې د انګلیسي د ښوونکي په توګه له دغه مرکزه فارغ شو. کله چې له دې ځایه فارغ شو، نو ولاړ او د هانګزو د زده کړو مرکز کې یې د انګلیسي تدریس پیل کړ. وروسته یې په سي کې جي ایس بي پوهنتون کې نوملیکنه وکړه او په ۲۰۰٦ کال کې ترې فارغ شو.
جک چې کله له زده کړو فارغېږي، نو په ۳۰ بېلابېلو کارونو لاس پورې کوي. جک ما وایي، یوه ورځ ولاړم ما ویل پولیس به شم، دوی ویل، هلکه اندام دې کوچنی دی، مناسب نه یې. یوه ورځ ولاړم کې اېف سي هوټل ته، دوی دغه کار ته ۲۴ کسان وربللي وو، زه هم پکې وم، ۲۳ ومنل شول؛ خو ما ۲۴م ته د رد ځواب راکړل شو. یوازینی کس وم چې ونه منل شوم.
هغه د ۱۹۹۴ کال په اوږدو کې د انټرنېټ په اړه ځینې شیان اورېدلي وو. هغه د ۱۹۹۵ کال په لومړیو کې امریکا ته ولاړ. هلته د خپلو دوستانو په مرسته له انټرنېټ سره اشنا شو. دی وایي، ما د یوې کلمې پلټنه پیل کړه، د نړۍ له ګوټ ګوټ مې د هغه کلمې په اړه معلومات پیدا کړل. هغه ورته حیران شوی و، چې دا نو اوس څنګه کار دی. هغه همدا راز هڅه کړې وه چې د چین په اړه معلومات په انټرنېټ کې پیدا کړي؛ خو بیا حیران شوی و، ځکه د چین په اړه په انټرنېټ کې هېڅ معلومات نه وو. ده او یوه ملګري یې همهلته پرېکړه وکړه چې د چین په اړه یو وېب سایټ جوړ کړي او ښه ډېر معلومات پکې واچوي. د پنځو ساعتونو په اوږدو کې یې ډېر اېمیلونه تر لاسه کړل، چې ډېرو خلکو غوښتل پوه شي د دغه سایټ چلوونکی څوک دی. په دې وخت کې جک ما متوجه شو چې انټرنېټ ډېر ښه شی دی. نو ویې پتېیله چې د وړاندې کولولپاره ډېر څه لري. په ۱۹۹۵ کال کې جک ما د خپلې مېرمنې او ملګرو په مرسته ۲۰ زره ډالر راټول کړل او د انټرنېټ یو شرکت یې جوړ کړ. دوی په دې وخت کې یوازې خصوصي شرکتونو ته وېبپاڼې جوړولې. هغه د خپل شرکت نوم د صحافت زېړ شرکت کېښود. په یوه کال کې یې شرکت پوره ۸ لکه ډالره ګټه وکړه، دا هېڅ د باور وړ نه وه. له همدې ځایه یې د سترو کارونو زمینه ورته برابره شوه او نن د علي بابا نوم د نړۍ په کچه مشهور دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۷ |
| € | ۹۲,٤ |
| Rp. | ٤۸۸ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰٦,۳ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# مذاکره کې کوم ټکي مهم دي؟

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ځینې مذاکرې لنډې وي، په یوه جلسه کې پای ته رسېږي او ډېر ژر یې پایله را څرګندېږي؛ خو داسې مذاکرې هم شته چې اوږدې وي او میاشتې میاشتې او ان کلونه وخت نیسي. د بېلګې په توګه: د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو مذاکرات چې څو میاشتې وخت یې ونیو. نو یوه مسلکي مرکچي ته پکار ده چې ټول مسایل یې باید په یاد وي، دلته مو د حافظې د قوت په اړه بحث نه دی کړی، بلکې موخه مو یوازې د مسایلو په یاد درلودل دي.

مسلکي مرکچي باید د جلسې او مذاکرې موضوعات په یاد ولري او ورباندې وپوهېږي. اصلي خبره دا ده چې لازمه نه ده د حافظې پر قوت تکیه وکړو. مسلکي مرکچي باید وکولای شي د یادښتونو او دغه راز د جلسو په اړه د مناسب راپور په اخیستو او ورسره د مذاکراتو د جلسو په اړه معلومات خپل ذهن ته وسپاري، څو وکولای شي په راتلونکو ناستو کې ترې ګټه واخلي. که مذاکرات اوږدېږي، نو د جلسې په اړه د راپور لیکل او ښکېلو لورو ته استول کولای شي د موضوعاتو په یاد ساتلو کې ډېره مرسته وکړي او دا به ډېره غوره وي، مخکې له دې چې نوې ناسته تر سره شي، باید د مخکینۍ ناستې اړوند راپور وکتل شي څو یې په اړه کاپي معلومات تر لاسه شي، چې په تېره ناسته کې پر کومو مسایلو بحث وشو، څو په پوره پوهاوي سره نویو مذاکراتو ته داخل شو.

**۱- د ښه تمرکز درلودل**

مسلکي مرکچي باید د مذاکراتو په ناستو کې پر موضوعاتو باندې له ښه تمرکز څخه برخمن وي. که مرکچي له ښه تمرکز څخه برخمن نه وي، نو کېدای شي ونه توانېږي چې د مذاکرې په ناسته کې او د مېز پر سر سمه او پر ځای پرېکړه وکړای شي. په وخت د پرېکړې نه کول کېدای شي د مقابل لوري په ګټه او د ده په زیان تمام شي. مرکچي باید د ښه تمرکز خاوند وي او هر هغه څه یا وسیله چې تمرکز یې پاشي، له ځان لرې کړي او یا هم کنټرول ورباندې ولري. داسې داخلي او بهرني عوامل شته چې کولای شي تمرکز مو سره وپاشي.

داخلي یې هغه موارد دي، چې له داخله زموږ د ذهن او جسم اړوندېږي، لکه بې خوبي، ستړیا، لوږه، تنده او نور داسې موارد چې د وجود له د ننه څخه مو د تمرکز د پاشل کېدو لامل کېږي. بېروني عوامل هم لکه موبایل، له کچې زیاته رڼا او یا له کچې ډېره تیاره، شور او ځوږ، د ټلوېزیون روښانه اوسېدل او نور هغه موارد چې ذهنناً موږ له مذاکره کوونکې جلسې لرې کوي. نو سپارښتنه کېږي ټول هغه داخلي او بېروني عوامل چې د مذاکرې پر مهال زموږ حواس او ذهن سره پاشي، د امکان تر بریده پورې له ځانه لرې کړئ.

**۲- پر وېره او اضطراب د برلاسۍ ورتیا**

کېدای شي یو مرکچي په یوه ډېره مهمه ناسته کې ستړېس او ډار ولري، دغه ستړېس د مذاکرې د پیل پر مهال خپلې وروستۍ کچې ته رسېږي، دغه راز کله چې له مخاطب څخه ځواب نه اورو او یا دا چې یوه غیر عادي خبره ترې اورو، دغه ستړېس نور هم ډېرېږي. مسلکي مرکچي کولای شي دغه وېره کنټرول او په مثبت اړخ کې ترې ګټه واخلي. د هغو څېړنو له مخې چې تر سره شوې دي، تاسو کولای شئ چې له دې وېرې څخه په مثبت اړخ او د ځان په ګټه ترې کار واخلئ. دا کار کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي، څو پر ځان کنټرول او باور مو لا زیات شي او ناسته ښه پر مخ بوځی.

دغه ستړېس کولای شي له موږ سره مرسته وکړي، څو پر ځان لا ښه کنټرول ولرو، ډېر مسایل مو له یاده ونه وځي او یا دا چې له موږ سره مرسته وکړي څو هغه تېروتنه ونه کړو، کومه چې د ناستې په سر کې را څخه کېږي او له کبله یې مذاکرات زموږ پر زیان تمامېږي.

د دې لپاره چې دغه ستړېسونه خپلې وروستۍ کچې ته را ښکته کړو، لاندې ټکو ته باید پام وکړو:

۱- پروګرام جوړول او د یادښتونو اخیستل: د مذاکرې ناستې ته تر تللو مخکې ټول هغه موارد چې ذهن ته مو درځي، درسره ولیکئ او بېلابېلې ټاکنې و ارزوئ. که تاسو د یوې ادارې په استازیتوب خبرې کوی، نو ښه ده چې د خپلو همکارانو له نظرونو مو ګټه واخلئ، له ځان سره یې ولیکئ څو د مذاکراتو مېز ته ښه تیاری ولری.

۲- مذاکرې ته له ټولو اړخونو وګورئ: مخاطب ته مو پام وکړئ، له کومه ځایه راځي او کوم موارد ورته مهم دي. هڅه وکړئ چې د غوښتنو او اړتیاوو په برخه کې یې ترې وپوښتئ.

۳- د ناستې لپاره تر ټولو ښه وخت وټاکئ: د مذاکرې وخت ته ښه پام وکړئ، په کوم وخت کې یې چې تر سره کړی، ستاسو په ګټه به وي. هڅه وکړئ چې خپلې غوښتنې داسې وخت مطرح کړئ، چې مخاطب مو ارام او منطقي وي، نه په داسې وخت کې چې په احساساتو کې وي.

۴- د احساساتي کېدو خیال مو وساتئ: له کچې ډېر احساساتي کېدل مو تفکر ګډوډوي، وضعیت لا خرابېږي او دا د دې لامل کېږي چې ناسته پرته له کومې پایلې پای ته ورسېږي.

۵- ښه اورېدونکي اوسئ: هڅه وکړئ چې تر خبرو کولو ډېر وخت غوږ نیولو ته ورکړئ. دا معمول ده، هغه کسان چې لږ خبرې کوي، په ډېر احتمال ګټونکي هم دي.

٦- دا مو باید په یاد وي چې بله ورځ هم شته: که د مذاکرې پر مهال له کومې ستونزې سره مخ شوی، کولای شی ناسته مو بلې ورځې او یا هم بل ساعت ته وځنډوئ. تر څنګ یې کله چې د مذاکرې پر مهال له ستونزې او جنجال سره مخ شوی، له مقابل اړخ سره ناوړه او خشن چلن مه کوئ، ځکه تاسو اړ یاست چې بیا هم له همدې کس سره مذاکرې ته کېنی. هڅه وکړئ چې ټول مسایل په ښه ارامۍ سره حل کړئ.

۷- د وخت مدیریت

د وخت مدیریت هم کولای شو د ناستې یا جلسې د مدیریت یوه برخه وبولو؛ خو اهمیت ته په کتو یې دلته یو ځل بیا ورته اشاره کوو. مسلکي مرکچي باید وکولای شي د مذاکرې ناسته مدیریت کړي او تر څنګ یې خپله هم داسې خبرې وکړي چې د مذاکرې وخت ضایع نه کړي.

مسلکي مرکچیان هڅه کوي چې د مذاکرې پر وخت مدیریت ولري او اجازه ورنه کړي، چې د مذاکرې بحثونه حاشیو ته لاړ شي. مانا دا چې د مذاکرې په وخت باندې مطلوب کنټرول ولري او مدیریت یې کړي.

۸- د غوره دویمه درجه ټاکنو مشخص کول له (Best Alternative to a Negotiated) څخه د را اخیستل شوي اصطلاح مخفف بتنا (BATNA) یا د مذاکراتو پر مهال جوړ جاړي ته د رسېدو لپاره د غوره دویمه درجو غوښتنو یا ټاکنو مشخص کول د راجر فیشر او ویلیام یوري Getting to Yes له لیکنې څخه را اخیستل شوې ده.

که څه هم چې له مذاکرې څخه اصلي موخه خپلو غوښتنو ته رسېدل دي؛ خو که مطلوبې پایلې ونه شی رسولی، نو تاسو باید مخکې له مخکې غوره دویمه درجه غوښتنې یا ټاکنې هم ولری، چې د لومړنیو هغو ځای ناستې یې کړی او پرېکړه ور باندې وکړی. په دې کار سره تاسو کولای شی چې که خپلو لومړنیو غوښتنو ته ونه شی رسېدای، هغه هېرې کړئ، دا یې ځای ناستې کړئ او پام ورته وکړئ. له مذاکرې مخکې مو «پتنا» ګانې مشخصې کړئ، ځان ډاډه کړئ چې په حقیقت کې بریا ستاسو ده او ښه پایله به تر لاسه کوی. د ښو «پتنا» ګانو درلودل له تاسو سره مرسته کوي چې د مذاکرې پر مهال ښه ورتیا وښیئ او په بالقوه توګه له هغه هم ښه جوړجاړي ته ورسېږئ، چې فکر مو یې کړی و، دا ځکه چې تاسو د ټاکنو خپل حق پراخ او لوی کړی دی.

# میاخېل: هېچاته اجازه نه ورکوو چې هېواد یوځل بیا د کورنۍ جګړو پر لور بوځي

د ملي دفاع وزارت سرپرست او لومړی مرستیال شاه محمود میاخېل وایي، چې حکومت ډاډه دی چې له افغانستان سره د ناټو تړون او د امریکا متحدو ایالتونو تر څنګ د نړیوالو پوځي او نورې مرستې د اوږدې مودې لپاره دوام مومي.

میاخېل ویلي، له افغانستان سره د ناټو پوځي همکاري ښایي تر ۲۰۲۴ میلادي کاله دوام وکړي او د امریکا کانګرېس هم د روان میلادي کال لپاره د افغانستان په اړه بودجه تصویب کړې ده.

هغه زیاته کړې، چې نړۍ هم نه غواړي چې د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونه د کورنیو جګړو د وخت په څېر درې ورې شي. د میاخېل په خبره: «مرستې دوام مومي؛ سیمه، نړۍ او افغانستان نه غواړي چې امنیتي او دفاعي ځواکونه یې د ۱۹۹۲ میلادي کال په څېر وپاشل شي او افغانستان بېرته کورنۍ جګړې ته لاړ شي. دلته که هر نظام راځي، دفاعي او امنیتي ځواکونو ته اړ دی او خلک د دغو ځواکونو ملاتړ کوي.» میاخېل ویلي، که نړۍ او د افغانستان متحدان د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو تمویل بند کړي، افغانستان به د خپلو دغو ځواکونو د تمویل په خاطر د بیارغونې پروژې ودروي. د ملي دفاع وزارت سرپرست دغه راز زیاته کړې، چې د افغانستان امنیتي او دفاعي ځواکونه چې له ۲۰۱۴ میلادي کال راهیسې د امنیتي چارو بشپړ مسوولیت ور تر غاړې دی، کال په کال ښې تجربې حاصلوي.

هغه ویلي: «کال په کال زموږ د امنیتي ځواکونو ظرفیتونه زیات شول. اوس په ښه دریځ کې دي چې ۹۷ فیصده جګړه په خپله پرمخ بیایي. که وګورو زیات وخت د افغانستان په اړه په خپلو محاسبو کې ځینې تحلیلګران او څېړنیز مرکزونه غلط ثابت شوي او تحلیلونه یې پرځای نه وو.»

میاخېل په خپلو خبرو کې څرګنده کړې، القاعده شبکه لا هم د طالبانو تر چتر لاندې فعالیت لري، خو کومه مشخصه سیمه یې په واک کې نه ده. هغه ویلي، که څه هم په افغانستان کې د القاعده شبکې د فعالو غړو شمېر ورته معلوم نه دی، خو فکر کوي چې د دوی شمېر به خورا کم وي. د ده په باور، داسې ښکاري چې د القاعده وسله وال تر ډېره په غزنې، د افغانستان د شمال او جنوب په ځینو برخو کې فعال دي.

# د مسکو او ترکیې په ناستو کې د ګډون لپاره حکومتي پلاوی لا هم نه دی په ډاګه شوی

که څه هم په مسکو کې د افغان سولې په تړاو جوړېدونکې غونډې ته یوازې درې ورځې پاتې دي، خو لا هم د افغان د حکومت له خوا په دې غونډه کې د ګډون کوونکي پلاوي نوملړ نه دی روښانه شوی.

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وویل چې افغان حکومت د مسکو او دوحې په غونډو کې ګډون کوي او ډېر ژر به ګډون کوونکی پلاوی هم په ډاګه کړي.

هغه زیاته کړې وه، که په دې غونډو کې د طالبانو له خوا په قطر کې مېشت د سولې مرکچي پلاوی ګډون وکړي، دوی به هم پر همدې انډول پلاوی ور واستوي.

خو د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد ویلي، تر اوسه په دې اړه مشورې روانې دي او لا وروستۍ پرېکړه نه ده شوې. د ملي مصالحې عالي شورا هم په دې اړه د مشورو له دوامه خبر ورکوي.

په مسکو کې د افغان سولې په تړاو په جوړېدونکې غونډه کې د امریکا، روسیې، چین او پاکستان ځانګړي استازي ګډون کوي او تر څنګ یې افغان حکومت، یو شمېر سیاسیونو او طالبانو ته هم د ګډون بلنه ورکړل شوې ده.

بلخوا استانبول به هم د روان کال د اپرېل میاشتې په لومړیو کې د افغانستان په اړه د یوې غونډې کوربه وي. په ترکیه کې د افغانستان په اړه غونډې ته افغان حکومت، امریکا، روسیه، چین، هند، ایران او د پاکستان په ګډون طالبان هم بلل شوي دي. تازه د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر له خپل ترکي سیال مولود چاووش اوغلو سره په ټلیفوني خبرو کې هیله ښودلې چې د استانبول غونډه د اوربند خوندي کولو او د افغانانو له غوښتنې سره سم، به یو سیاسي حل ته د رسېدو په لور یو مثبت ګام وي.

بهرنیو چارو وزارت په دې تړاو په یوه خپره کړې خبرپاڼه کې لیکلي: «د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي اتمر ته وویل، د ترکیې غونډه به، د دوحې بدیل نه، بلکې د هغې بشپړونکې وي.»

په ورته وخت کې د افغانستان مرکچي پلاوی هم وایي، هیله لري چې دا غونډې به په قطر کې د سولې روانې خبرې ګړندۍ کړي. د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویانده ناجیه انوري وایي، د سیمه‌ییزې اجماع پیاوړتیا د سولې خبرو د پرمختګ لپاره یو اغېزمن ګام دی. نوموړې زیاتوي: «د افغانستان د سولې پروسه کې اجماع په هره کچه ډېره مهمه ده، خو دا اجماع له افغانستانه بهر په سیمه‌ییزه کچه یو ډېر اغېزمن او مهم فکټور دی چې کولای شي هم د سولې پروسه چټکه کړي او هم د سولې روانې خبرې ګړندۍ کړي.»

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د کب ۲۵مه | د ۲۰۲۱ د مارچ ۱۵مه | ۶۹۶یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


کابل ۱۵ / ۴ | هرات ۱۷ / ۳ | کندهار ۲۵ / ۹ | بلخ ۱۰ / ۲ | ننګرهار ۲۳ / ۸ | خوست ۱۵ / ٤

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۴۱ | لمر ختل ۰۶:۰۵ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیګر ۰۴:۱۸ | ماښام ۰۶:۰۱ | ماخوستن ۰۷:۲۰

## نړۍ




## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا د اخته کسانو شمېر له ۱۲۰ میلیونو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۲۰ میلیونه او ۱۹۸ زره او ۲۲۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله دوه میلیونه او ٦٦١ زره او ۸۳۰ کسان مړه شوي او نږدې ۹۷ میلیونه تړي ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۰ میلیونه او ۴٦ زره او ۱۲۷ ته رسېدلي او ۵۴٦ زره او ٦٦۱ نور امریکایان تړې مړه شوي دي.

دغه راز برازیل د ۱۱ میلیونه او ۴۳۹ زره او ۲۵۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، هند د ۱۱ میلیونه او ۳۸۲ زره او ٦۱۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د څلور میلیونه او ۳۹۰ زره او ٦۰۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او بریټانیا د څلور میلیونه او ۲۵۳ زره او ۸۲۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوي دي.

فرانسه، ایټالیا، هسپانیا، ترکیه او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## تهران: پر ایرانی بېړۍ په برید کې اسراییل لاس درلود

ایراني رسنیو د یاد هېواد د چارواکو له قوله ویلي، چې په مدیترانې سمندرګي کې د تېرې اونۍ په برید کې اسراییل لاس درلود.

دغه پېښه تېره چهارشنبه شوې او کله چې تېره جمعه له اسراییلي چارواکو په دې اړه د تبصرې غوښتنه وشوه، هغوی له څه ویلو ډډه وکړه. ایراني رسنیو تېره جمعه راپور ورکړ چې د «ایران شهر کُرد» په نوم بېړۍ له یوې چاودونکې وسیلې سره لګېدلې چې د اور لګېدو سبب شوې ده. په دې پېښه کې چا ته د سر او مال د زیان اوښتو خبر نه دی ورکړل شوی. د رویټرز خبري اژانس په حواله، د ایران د سمندري ځواکونو دوو سرچینو ویلي، لومړنۍ موندنې ښيي چې دغه بېړۍ قصداً له نامعلوم ځایه په چاودونکې وسیلې لګېدلې ده.

د ایران نیمه رسمي خبري اژانس نور نیوز د ایران د یوې تحقیقاتي ډلې د یوه غړي چې نوم یې نه دی یاد شوی، خبرې را اخیستې چې ویلي یې دي:«جغرافیایي موقعیت او د حملې بڼې ته په پام سره یو قوي احتمال دا دی چې دغه تروریستي عملیات اسراییل ترسره کړي دي.» د ایران د بهرنیو چارو وزارت یوه ویاند ویلي، دوی د دې سبوتاژوونکي برید خبر تاییدوي او د نړیوالو قوانینو خلاف یې بولي.

د ایران دولتي رسنیو د سعید خطیب زاده له قوله ویلي چې د دې سبوتاژوونکي عمل د ترسره کوونکو د پېژندنې لپاره اقدامات روان دي.

## مجروح: اگر بسیج ملی در برابر مواد مخدر به وجود نیاید، اوضاع کشور تاریک‌تر خواهد شد



وزارت صحت‌عامه تهدید مواد مخدر و اعتیاد را خطرناک‌تر از تروریزم و جنگ در افغانستان می‌داند.

وحیدالله مجروح، سرپرست وزارت صحت‌عامه می‌گوید که اگر بسیج ملی در برابر مواد مخدر بوجود نیاید، اوضاع کشور تاریک‌تر خواهد شد.

او در این باره گفت: «جنگ می‌رود، تروریزم گم خواهد شد؛ اما برای چند نسل این مصیبت و این بدبختی به هر دروازه ما خواهد رسید.»

رحیم گل ثاروان، مسؤل پروژۀ گزارش دهی مبارزه با مواد مخدر صدای امریکا نیز بیان داشت: «تنها در ولایت نورستان شمار معتادان اندک استند اما در سی وسه ولایت دیگر اعتیاد به مواد مخدر سیر سعودی دارد.»


والی کابل در حالی که وزارت داخله را به ناکامی و شماری از مسؤلان این وزارت را به همکاری با قاچاق بران مواد مخدر متهم می‌سازد، می گوید که تنها در ولسوالی سروبی کابل دوهزار جریب زمین خشخاش کشت می‌شود.

محمد یعقوب حیدری، والی کابل بیان داشت: «عمده فروشی مواد مخدره در هودخیل است افرادش مشخص است پولیس اقدام نمی کند، شرم است.»

اما وزارت امور داخله راه‌اندازی بیش از سه هزار و هفت صد عملیات، بازداشت بیش از چهارهزار و سه صد مظنون به قاچاق مواد مخدر و تخریب ده‌ها ذخیره گاه مواد مخدر را در یک سال گذشته از دست آوردهای خوب این وزارت می گوید.


## ژوند

## ریالمي خپل ارزان بیه موبایل خرڅلاو ته وړاندې کړ




ریالمي کمپنۍ چې غوره ځانګړنو او ارزان بیه لرونکو ځیرکو موبایلونو خرڅولو له امله ځانګړې شهرت لري، تازه خپل نوی ارزان بیه ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل کې د مېډیاټېک هېلیو جي۳۵ ډوله پروسېسر کارول شوی او ٦٫۵ انچه ایچ ډي پلس ډوله مخپاڼه لري. د ګوتې نښې سېنسر شاتنۍ برخه کې ورکړل شوی او ۵۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري، چې ریورس چارجېنګ ځخه هم ملاتړ کوي. دغه ځیرک موبایل چې ریالمي سي۲۱ نومول شوی دی او د ۳ ګېګابایټ رم او ۳۲ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا لري، کاروونکي د میموري کارت له لارې د فایل ثبتونې وړتیا ۲۵٦ ګېګابایټ ته لوړولی شي. شاتنۍ برخه کې درې کامرې لري چې ۱۲ مېګاپکسله اصلي کامره، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله مونوکروم کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۵ مېګاپکسله وړتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۲۰ امریکایي ډالره ټاکل شوې ده.

## امیدوارې مېرمنې کوم ډول خوراکي رژیم ته اړتیا لري؟



د امیدوارو مېرمنو لپاره ښه خوراک، څښاک او استراحت یوه جدي اړتیا ده، ځکه د خپلې روغتیا تر څنګ یې د ماشوم روغتیا هم اړینه ده. امیدوارې مېرمنې باید په هغه کچه انرژي واخلي، په کومه اندازه چې اړتیا ورته لري. که د دوی مصرفي انرژي له اخیستونکې انرژۍ څخه کمه وي، پر مور او ماشوم منفي اغېز کوي. د حامله‌ګۍ په وخت مېرمنې باید د وزن بایللو کوښښ ونه کړي، بلکې په عادي شکل خپلو ورځنیو کارونو ته دوام ورکړي. د امیدوارۍ پر مهال اړینه ده، چې میندې خپل غذایي رژیم ته پام وکړي. په زیاته اندازه ویټامینونه، پروټین او منرالونه واخلي. له دې ورهاخوا د امیدوارو مېرمنو لپاره استراحت تر ټولو غوره سپارښتنه ده. د ورځې پر مهال د کارونو په منځ کې استراحت د مور او ماشوم د روغتیا لپاره خورا اړین دی. د حامله‌ګۍ پر مهال د زیاتو اوبو څښل اړین دي. ډاکتران امیدوارې مور ته کم تر کمه د ۱۲ ګیلاسه اوبو سپارښتنه کوي. اچار، مرچک او مالګین خواړه د امیدوارو میندو لپاره ضررناک تمامېدلی شي.

د زده کونکو/زده کړیالانو جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې خپل ځانګړی محصول "د زده کونکو جاري حساب" په لاره اچولی چې د افغانستان د زده کونکو لپاره ځانګړې ډالې ګڼل کېږي. نوموړی حساب زده کونکو/زده کړیالانو ته د وړیا ای تي ام کارت او په کلنۍ فیس کې د ماستر ډبټ کارت تخفیف سره چمتو شوی دی.
STUDENT'S ACCOUNT



www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank